الدرس الثالث عشر | ديارلسم درس
صفات النبي ﷺ الخَلقية | د رسول الله ﷺ حليه مباركه

د نبی کریم ﷺ قد درمیانه وو نه ډیر لوئی او نه ډیرټیټ وو، ټول اندامونه ډیر مناسب ، فراخه سینځ والا وو ، خائسته مخ، سپن رنګ والا چی ګلابی کرښی پکښې ځلیدلې ،غونډ مخ،توری سترګې، باریکه پوزه، خائسته خوله،ګنړه ګیره ، خائسته خوشبودار جسم ، نرم نرم اندامونه ، انس رضی الله عنه فرمائي چی ما مشك او عنبر او بله خوشبوئی د نبی کریمﷺ د خوشبوئی نه خائسته نده موندلی ، د نبی اکرم ﷺ لاس مبارک ډیر نرم وو ، تر او تازه خندیدونکې مخ مبارک، خائسته آواز ، مختصری خبری ، د رسول اللهﷺ په باره کښې انس رضی الله عنه فرمائی ، چی نبی کریم ﷺ د هر چا نه خائسته ، د هر چا نه زیات سخاوت والا، او د هر چا نه زیات بهادر وو .**رسول اللهﷺ اخلاق مبارک**:رسول الله ﷺ یو بهادرا او با همته انسان وو ، علی رضی الله عنه فرمائی ، چی کله جنګ به ګرم شو او خلق به یوبل کښې ګډوډ شو مونږه به رسول الله ﷺ ته رامنډه کوله ، رسول الله ﷺ د ټولو نه زیات سخاوت کونکی وو ، داسی چرته ندی شوی چی د رسول اللهﷺ چا څه غوښتلی وی او هغه ورته انکار کړی وی ، رسول الله ﷺ ډیر د صبرناک او با وقاره مزاج والا انسان وو ، د خپل ځان دپاره چری انتقام ندی اغستلی ، او نه د خپل ذات دپاره په چا باندی غصه کړی ده ، او که د الله تعالی مقرر شوی حدود به مات شول د الله تعالی د خطره دهغې انتقام به اغستلو ، دحق په معامله کښې به خپلوان غریبانان او مالداره ټول د رسول الله ﷺ په نظر کښې ټول برابر وو، او دا تعلیم امت ته ورکړی دی ، چی اوچتوالی د یو په بل نشته دی مګر په تقوی باندی، ټول خلق دحقوقو په لحاظ سره برابر دی ، د مخکینو امتونو د هلاکت سبب هم دا وو چی یو مالداره سړی غلاء وکړه هغه به معاف ئی کړو او غریب سړی باندی به قانون جاری کوو رسول الله ﷺ فرمائل : په الله تعالی قسم ،که فاطمة بنت محمدﷺ هم غلاء کړی وی ما به د هغې لاس هم پریکووو (صحيح البخاري٣٤٧٥:ومسلم ١٦٨٨) رسول الله ﷺ په خوراک کښې چرته هم عیب نه راوباسلو ،که خوښ به شو نو خوراک به تری وکړو او یا به پرېښودلو ، کله به یو میاشت دوه میاشتی تیری شوی او د رسول الله ﷺ په کور کښې به اور قدرته بل نشو، درسول اللهﷺخاندان والو به په اوبه او کهجورو باندی وخت تیرولو ، رسول اللهﷺ به د لوړی د لاس خیټې پوری یو یا دوه کانړی تړل ، د کور په کارونو کښې به د کوروالو سره مدد کولو د بیمارانو بیمار پورسی له به ورتللو ، عاجزی او تواضع په نبی ﷺ کښې ډیره زیاته وه ، غریب سړی او مالدار عام انسان او صاحب حیثیت چابه چی راوبللو راتللو به ، د غریب نه د هغه د غربت د وجی نه نفرت نکوو او د بادشاه نه د هغه د بادشاهت د وجی نه یره نکوله ، آس ، اوښ ، خر ، خچر، هر قسم سورلې باندی سورلی کوله ، اګر چی نبی ﷺ هر طرفنه تکلیفونو او مشکلات کښې راګیر وو لیکن سره ددی نه ډیر پراخه او خوشحاله مخ واله او خوش اخلاقه انسان وو ، خوشبو د نبی ﷺ ډیره خوښه وه ، د بدبوئی نه به ئی ځان ساته ، الله تعالی نبی ﷺ له عظیم اخلاق او ښائسته کردار ورکړی وو ، الله تعالی ورله داسی عظیم علم ورکړی وو، چی مخکینو او روستنو خلقو کښې چاله هم ندی ورکړی شوی ، حالانکه نبی ﷺ اُمّی وو ، یعنی لیکل او لوستل ئی نه شو کولی ، هیڅ انسان ورله تعلیم نه وو ورکړی ، دا قرآن کریم ئی د الله تعالی د طرفنه راوړی دی ، الله تعالی د قرآن کریم باره کښې فرمائی: [**قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنْسُ وَالجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا القُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا**] {**الإسراء:88**} ترجمه : اے نبی ﷺ ووایا ،که چرته ټول انسانان او پیریان راجمع شی چی د قران پشان مثل راوړی ، د قرآن مثل نشی راوړلی ، اګر که د یو بل مددګاران وی.د اعتراض کونکو خُولې د بندولو دپاره نبی ﷺ د اول نه اُمّی وو(یعنی لیکل او لوستل ئی نشو کولی) چی بیا دا وونه وائی چی دا قران ئی لیکې دی یا ئی د چانه زده کړی دی او یا ئی د مخکښنې کتابونونه أغستلی دی.